# آبادي اوونیزه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه ۱

پنجشنبه، د شوال المکرم ۲۷ مه، ۱۴۴۴ هـ. ق کال




## سرلیکنه

اوسنی نړۍ کې اقتصادي پرمختګ د حکومتونو د کاري اجنداوو په سر کې ځای لري او کوښښ کوي چې خپلو هېوادوالو ته د ژوندانه په هره برخه کې اسانتیاوې برابرې کړي. دا بیا هغه څه دي چې له اقتصادي ودې او پرمختګ پرته ناشونې دي. اقتصادي پرمختګ هغه مهال شونی دی چې حکومتونه دې پرمختګ ته ژمن وي.

د اقتصادي پرمختګ له پاره د شرایطو برابرول اړین دي، له دې جملې لومړی شرط امنیت دی. د امنیت په ټینګښت سره پر سیاسي، ټولنیز او کلتوري برخې سربېره اقتصادي برخه د پرمختګ په لور روانېدلی شي. د اسلامي امارت په راتګ سره په ټول هېواد کې الحمدلله بشپړ امنیت تأمین شوی دی او په هر ګوټ کې خلک په ډاډمنه فضا کې ژوند کوي. مرکزي پیاوړی حکومت رامنځته شوی، اداري فساد ته پای ورکړل شوی، خپلسرۍ او د قدرت جزیرې له منځه تللې دي، د اقتصادي ودې او پرمختګ له پاره زمینه برابره شوې ده.

د کورنیو پانګوالو ترڅنګ یو شمېر بهرنیو پانګوالو له دې امله پانګونې ته زړه ښه کړی دی چې په افغانستان کې پوره امنیت ټینګ دی. د لویو لارو د رغونې ترڅنګ د ربل پټلې د غځولو له پاره کار روان دی. له قانون سره سم د هېواد پرېمانه طبیعي زېرمو د را ایستلو چارې دوام لري. د سوداګرۍ برخه پراخه شوې چې له امله یې صادرات د تېرو کلونو په پرتله دوه برابره لوړ شوي دي. دا ټول هغه څه دي چې د اقتصادي ثیکاو او پرمختګ له پاره اړین دي او اسلامي امارت یې د پوره کېدو له پاره متې رانغښتې دي.

اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست په غوره کولو او د اقتصادي ودې له پاره د معیاري مکانیزمونو په رامنځته کولو سره تر دې مهاله پر دې توانېدلی دی چې د هېواد اقتصاد تر یوه بریده په پښو ودروي. په دې برخه کې تر ټولو مهم ارګان چې اسلامي امارت رامنځته کړی دی هغه د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت دی؛ د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند تل په خپلو خبرو کې پر یوې خبرې ډېر ټینګار کړی دی او هغه دا چې دوی د افغانستان اقتصادي رغونې ته پوره ژمن دي او په هر قیمت به د افغانستان اقتصاد پر خپلو پښو دروي.

د آبادۍ اوونیزه چې په اقتصادي، ټولنیزه برخه کې خبري خپرونه ده، په انلاین ډول خپرېږي، د خپرېدو یوه موخه یې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د فعالیتونو منعکس کېدل دي. په دې اوونیزه کې د یاد معاونیت د فعالیتونو ترڅنګ د اقتصاد په اړه لیکنې او دغه راز اقتصادي کورنۍ او بهرنۍ خبرونه هم خپرېږي. د دې اوونیزې په خپرېدو سره به ټول هغه فعالیتونه تر هېوادوالو پورې رسېږي چې د خلکو له اقتصادي ژوند سره تړاو ولري او په دې ډول به خلک د خپل حکومت له کړنو خبرېږي او بیا به یې په اړه قضاوت کوي.

## د ورېښمو لار او د افغانستان لپاره یې اقتصادي ګټې

لیکوال: فضل ولي شیراني




افغانستان د خپل ځانګړي جغرافیایي موقعیت په برکت د تاریخ په اوږدو کې د نړۍ د مختلفو مدنیتونو د وصل مرکز پاتې شوی. سلګونه کاله وړاندې لرغوني افغانستان د لوېدیځ او ختیځ ترمنځ د سوداګرۍ، کرنې، ټولنیزو فعالیتونو او کډوالۍ یو مهم مسیر و، دا مسیر د ورېښمو د لارې په نوم یادېده او افغانستان د دې لارې د تقاطع مرکز و. له همدې امله شاوخوا څلور زره کاله وړاندې هم دغه هېواد په آسیا کې د سترو سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او مذهبي قدرتونو په زړونو کې ځای درلود. د ورېښمو لار د افغانستان له شمالي او مرکزي سیمو او له ګندهارا تر اراکوزیا پورې اوږند سیمو څخه تېرېده او چین یې له اروپایي، اسیاسي او افریقایي هېوادونو سره تاړه. له دې لارې هندي درمل او د چین ورېښمین ټوکران لوېدیځو هېوادونو ته صادرېدل. د سوداګرۍ لپاره د دې مهمې ځمکنۍ لارې له امله هغه مهال افغانستان په نړیوالو اقتصادي اړیکو کې مهم رول درلود؛ خو د نړۍ له پرمختګ، د سمندري او هوایي سوداګریزو او ترانزیتي کرښو په جوړېدو سره دا لرغوني سوداګریزه او ترانزیتي لار له پامه وغورځېده. کلونه وروسته پر ۲۰۱۳ز کال کله چې «شي جینپینګ» د چین ولسمشر شو، د نوموړي د لویو اقتصادي پروژو په لړ کې یوه طرحه هم د ورېښمو د لارې د بیا احیا طرحه وه. د ورېښمو لارې دغه طرحه په دوو برخو کې وړاندې شوه، چې یوه یې د اوبو او بله یې د وچې له لارې وه. ..... پاتې برخه راتلونکې پاڼه کې

د تېرې پاڼې پاتې برخه

د دې طرحې پر اساس د وچې لار له چین څخه پیلېږي، له منځنۍ آسیا او ایران څخه په تېرېدو منځني ختیځ او اروپا ته رسېږي. افغانستان په دغه مهمه طرحه کې د «یو کمربند او یوه لار» هوکړه‌لیک په لاسلیکولو سره شریک دی. په دې لیکنه کې د ورېښمو لرغوني لارې پر مخینه، د ورېښمو نوې لارې په برخه کې د افغانستان پر ونډه او د افغانستان لپاره د دې لارې پر اقتصادي ارزښت او ګټو خبرې شوې دي.

## د ورېښمو لارې مخینه او موقعیت

لارې او سړکونه د بشري ټولنو او هېوادونو د تړاو او اړیکو له پاره وسیلې دي چې نه یوازې د سوداګرۍ په برخه کې اغېزناکې تمامې شوې دي، بلکې له پېړیو راهیسې یې د تمدونونو، کلتورونو او بېلابېلو تهذیبونو په پېژندلو او لېږد کې هم رغنده رول لوبولی دی. په پخوا زمانو کې د هېوادونو ترمنځ د اړیکو ټینګښت او د هغو پایښت تر ډېره بریده د سوداګریزو لارو په پرانیستلو او دې برخې ته د پرمختګ ورکولو تر اغېزې لاندې و، دې برخې هغه مهال له دې امله ډېر ارزښت درلود چې سمندري یا د اوبو لارې نه وې او یا هم چا ترې ګټه نه پورته کوله او بله دا چې دا لارې د ځمکنیو هغو په اندازه خوندي نه وې، نو ځکه خو ځمکو یا په وچه کې غځېدلو لارو زیات اهمیت درلود. همدا لامل و چې یو شمېر لارو نړیوال شهرت خپل او هم یې د لارې پر سر پراته هېوادونه د شهرت لوړو پوړیو ته ورسول، چې د ورېښمو لار یې یوه ښه بېلګه ده. د ورېښمو لار شاوخوا ۱۱٤ کاله له میلاد څخه وړاندې د سوداګرۍ له پاره د یوې داېمني لارې په توګه جوړه شوه، دغه لار ختیځه، لویدیځه او سویلي اسیا، د افریقا شمال له ختیځې اروپا سره نښلوي. دغه لار ۱۷۰۰ کاله د بېلابېلو هېوادونو د سوداګرۍ یوه مهمه لار وه او تر ۱٤۵۰ز کال پورې ترې ګټه پورته کېده. دا لاره چې د هند او چین څخه پیلېده او بیا له افغانستان څخه تېرېده او تر روم پورې رسېده، د اسیا، اروپا او افریقا لویې وچې یې یو له بل سره نښلولې. د ورېښمو لار ٤۰۰۰ میله یا ٦۵۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري. د دې لارې په اوږدو کې ۹۷۰ کاروان سرایونه وو، چې مسافر به پکې تم کېدل. دا لار چې له هر هېواد نه تېره شوې وه، هغه هېواد اړ و، چې د مسافرو له پاره اسانتیاوې برابرې او کاروان سرایونه ورته ورغوي. دا کاروان سرایونه به په ځینو هېوادونو کې دومره ښکلي، په زړه پورې او په یوه ځانګړي سبک جوړ شوي وو، چې کټ مټ به د یوه بادشاه ارام سرای ته ورته وو. په کاروان سرایونو کې به د مسافرو له پاره ټولې اسانتیاوې په پام کې نیول شوې وې. د دې لارې په اوږدو کې کوریا، چین، هند، پاکستان، افغانستان، ایران، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغیزستان، ترکیه، عراق، سوریه او داسې نور هېوادونه پراته دي. له میلاده ۲۰٦ کاله وړاندې به چین د ورېښمو خپل تولیدات له همدې لارې د نړۍ نورو هېوادنو ته استول، چې له امله یې دا لاره د ورېښمو لار په نوم ونومول شوه. د ورېښمو او نورو سوداګریزو توکو ترڅنګ په دې لار بېلابېل لیدلوري، کلتورونه او مذاهب هم له یوې سیمې بلې ته لېږدول شوي دي چې اسلام او بودايیزم یې ښې بیلګې دي. د لرغوني افغانستان په ځانګړې ډول د کوشاني امپراتورۍ پرمهال کابل، کندهار او بلخ هغه درې ستر مرکزونه وو، چې له هغو څخه به د ورېښمو د لارې کاروانونه تېرېدل. له افغانستان څخه په دې لار نه یوازې کرنیز توکي بلکې لاسي صنایع، قیمتي ډبرې، یوناني بوټي او ځینې نور سوداګریز توکي د نړۍ نورو هېوادونو ته لېږدول کېدل. دغه راز له هند څخه درمل او له چین څخه ورېښم چې هغه مهال یې د سرو زرو په شان ارزښت درلود، هغه سوداګریز توکي وو چې د افغانستان له لارې به د ورېښمو په لار اسیايي، اروپايي او افریقايي هېوادونو ته استول کېدل. په عموم کې د ورېښمو لارې، د دې لارې په اوږدو کې د پرتو هېوادونو په ټولنیز، فکري، عقیدوي او اقتصادي وده کې خورا مهم رول لوبولی دی؛ خو کله چې نړۍ پرمختګ وکړ او سمندري لارې او هوايي کرښې رامنځته شوې، نو بیا د ورېښمو لرغونې لار له پامه وغورځېده او د تاریخ پاڼو ته وسپارل شوه.




## د ورېښمو نوې لار




په ۲۰۱۳ز کال کې «شي جینپینګ» داسې مهال د چین ولسمشر شو چې د دې هېواد اقتصادي وده مخ پر ځوړ روانه وه. له دغه وضعیت څخه د چین د ایستلو لپاره شي جینپینګ له ځان سره د لویو اقتصادي پروژو طرحې درلودې او د عملي کولو لپاره یې مهم ګامونه پورته کړل. په دې پروژو کې یوه هم د ورېښمو لارې د بیا احیا یا بیا جوړونې طرحه وه. د دې طرحې پر بنسټ د ورېښمو نوې لار دوه مسیره لري، چې یو یې د اوبو او بل یې د وچې دی. د ورېښمو د نوې لارې د طرحې پر بنسټ په وچه کې د دې لارې مسیر له چین څخه پیلېږي، له منځنۍ اسیا او ایران څخه په تېرېدو منځني ختیځ او اروپا ته رسېږي. دا پروژه چې یو بشپړ او هر اړخیز پروګرام دی، موخه یې د ورېښمو د لرغوني لارې بیا را ژوندي کول او په دې پروژه کې ټول هغه هېوادونه چې دیادې لارې په اوږدو کې پراته دي، دخیلول دي. چین غواړي چې له دې لارې د اسیايي او اروپايي هېوادونو نویو بازارونو ته ځان ورسوي. دغه لار کولای شي د افغانستان له لارې د منځنۍ اسیا هېوادونه له سویلي اسیا او ختیځه او لویدیځه اسیا له اروپا سره ونښلوي. یو کمربند او یوه لار چې ځمکنۍ، هوايي او سمندري زیربناوې، د اوسپنې پټلۍ او د انرژۍ د لېږد شبکې په کې شاملې دي، د نړۍ ٦٤ هېوادونه او څلورنیم میلیارده وګړي سره نښلوي. دا پروژه نه یوازې اقتصادي ګټې لري، بلکې فرهنګي او ټولنیزو اړیکو ته هم وده ورکوي. د ورېښمو د لرغونې لارې د بیارغونې موخه د سویل ختیځې آسیا، مرکزي آسیا او له اروپايي هېوادونو سره د چین د سوداګرۍ او اړیکو پرمختیا او د زېربناوو د پرمختګ لپاره د چین د کورنۍ پانګې او ظرفیتونو لوړول دي. چین په همدې موخه د ۱۰۰ میلیارد ډالرو بودیجې

# آبادي اوونیزه

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

دوشنبه، د شوال المکرم ۲۴مه، ۱۴۴۴ هـ . ق کال


په ورکړې په ۲۰۱٤ م کال د اسیا د زیربناوو د پانګونې بانک (Asian Infrastructure Investment Bank-AIIB) تاسیس کړ. په دې بانک کې د انګلستان، استرالیا او سویلي کوریا په ګډون ٥٦ هېوادونه غړیتوب لري. افغانستان چې د وربښمو لرغوني لارې یو مهم غړی و، د نوي لارې په طرحه کې د ځایبدو په موخه یې په ۲۰۱٦ز کال کې له چینایي لوري سره د «یو کمربند او یوه لار» هوکړهلیک لاسلیک کړ، چې پر اساس یې یو ځل بیا د دې تاریخي او مهمې سوداګریزې لارې د زنځیر کړۍ شو. د وربښمو نوي لارې پروژه چې په سیمه کې د پراخ اقتصادي اتصال لپاره جوړه شوې ده، د افغانستان له پاره ځانګړې ارزښت لري او د دې اړتیا ده چې افغانستان په دې پروژه کې فعال ګډون ولري، څو په سیمهییز او نړیوال اقتصادي بهیر، ترانزیټ او سوداګرۍ کې خپل تاریخي ارزښت بېرته را ژوندی کړي. دا راز یاده پروژه په وچه کې ایسار هېوادونه له سمندر سره نښلولی شي. د دې هېوادونو له ډلې یو هم افغانستان دی چې په وچه کې ایسار دی؛ نو له دې امله اړینه ده چې په داسې سترو او نړیوالو پروژو کې شریک شي، ځکه افغانستان کرنیز تولیدات، لاسي صنایع، کانونه لري او د دې د پلور له پاره هغو لارو ته اړتیا ده چې افغانستان وکولای شي د خپلې خوښې بازارونو ته لار پیدا کړي. د یو کمر بند او یوې لارې پروژه کې په ګډون سره به افغانستان ددې فرصت پیدا کړي چې پر اسیا سربېره اروپا ته هم لار وموندي او خپل محصولات په کم لګښت د دې هېوادونو تر بازارونو ورسوي.

## د وربښمو د لرغونې او نوې لارې اقتصادي ښیګڼې

د ترانزیټ او سوداګرۍ له پاره د لویو لارو، سړکونو، ریل پټلیو، هوایي کرښو او معیاري هوایي ډګرونو جوړول اړین دي. ځکه د دې ترانزیټي او مواصلاتي زیربناوو له رغونې پرته د یوه هېواد ښېرازي او پرمختیا امکان نه لري. د وربښمو لرغوني لار هم د سوداګرۍ له پاره یوه مهمه لار وه. د وربښمو لرغوني لار چې سلګونه کاله د سوداګریزو توکو د لېږد را لېږد لار وه، اسیا یې له اروپا او افریقا سره نښلولې وه. د دې لارې په برکت افغانستان هغه مهال اقتصادي وده کړې وه. خپل کرنیز محصولات، لاسي صنایع، قیمتي ډبرې او داسې نور یې د یادو لویو وچو بازارونو ته صادرول او له دې درکه یې له یوه لوري سوداګري او اقتصاد غوړېدلی و او له بل لوري یې په سیاسي لحاظ په نړیواله کچه ځانګړی باور ترلاسه کړی و؛ خو د سمندري او هوایي لارو او ریل پټلیو له رامنځته کېدو سره د وربښمو لرغوني لار له پامه وغورځېده، چې تر ډېره بریده یې د افغانستان په سیاسي او اقتصادي حالت ناوړه اغېزه وکړه. کلونه وروسته یو ځل بیا د وربښمو لارې د بیا احیا لپاره د چینایانو هڅې او په دې برخه کې د عملي کار پیل د دې اقتصادي او سوداګریز مسیر ارزوند هېوادونو لپاره یو ښه زیری و. چین دا ځل د وربښمو لرغوني لارې د بیا احیا طرحه د یو کمربند او یوې لارې په نومولو سره وړاندې کړه. د یو کمربند او یوې لارې دغه لویه پروژه به اسیا، اروپا او افریقا یو ځل بیا سره ونښلوي او د دغو لویو وچو د هېوادونو اقتصاد به وغوړوي او ګټې به یې شریکې کړي. یو کمربند او یوه لاره به د نړۍ او سیمې هېوادونو ترمنځ واټن کم کړي او سوداګر به وکولی شي، چې خپل مالونه په لنډ وخت او کم لګښت سره ولېږدوي. په وچه کې ایسار افغانستان د اسیا او اروپا په ځمکني مرکز کې پروت دی. یو کمربند او یوه لار د افغانستان له پاره پرمختیایي لارې برابرولی شي او د خپل جغرافیایي موقعیت په درلودلو سره د سیمې پر څلور لارې بدلیدلی شي. د یو کمربند او یوې لارې سره به د افغانستان حکومت وکولای شي چې نوي اقتصادي فرصتونه رامنځته او ورسره به نړیوال پانګوال وهڅوي، ترڅو په بېلا بېلو برخو په ځانګړې ډول د کانونو په برخه کې پانګونه وکړي. له دې سره به افغانستان د اقتصاد یوه نوي پړاو ته ورننوځي. بله دا چې افغانستان یو کرنیز هېواد دی او زیاتره خلک یې په زراعت او کرنه بوخت دي، ددې لارې په جوړېدو به د افغانستان د کرنیزو محصولاتو مارکیټ نړیوالو مارکیټونو سره ونښلول شي. دا بیا دوې ګټې لري له یوه لوري به سوداګرۍ پراختیا وموندي او له بل لوري به د افغان بزګرانو اقتصادي حالت ښه شي. د حکومت له پاره به ددې زمینه برابره شي چې د مالیاتو په اخیستلو سره د افغانستان د حکومت د عوایدو کچه لوړه کړي. دغه راز به د افغانستان لاسي صنایع نړیوالو بازارونو ته لار پیدا کړي چې له مخې به یې لاسي صنایع وده وکړي او په راتلونکي کې به دا د عواید یو ستره سرچینه وګرځي.

## شته ستونزې او حل لارې

د افغانستان جغرافیایي موقعیت داسې دی چې کولای شي، د اسیا لویې وچې هېوادونه لومړی په خپلو کې او بیا له اروپا او نورو لویو وچو سره ونښلوي. د همدې مهم او ارزښتناک موقعیت له مخې پخوا هم له دې هېواد څخه مهمې سوداګریزې لارې تېرې شوې وې چې ښه بېلګه یې د وربښمو لرغوني لار ده او هم په اوس کې چې د یو کمربند او یوې لارې پروژه چې موخه یې د وربښمو لرغوني لارې بېرته راژوندي کول دي، له افغانستان څخه تېرېږي. هغه مهال د چین او هند په ګډون د وربښمو لرغوني لارې په اوږدو کې پرتو هېوادونو په خپل وار سره ددې لرغوني لارې د امنیت ټینګښت ته پوره پاملرنه کړې وه او هم یې په دې لاره د تېربدونکو کاروانونو له پاره ټولې اسانتیاوې برابرې کړې وې؛ خو د یو کمربند او یوې لارې طرحه چې په اوسمهال کې عملي کېږي ځینې ستونزې یې پر وړاندې پرتې دي چې د دې لارې په اوږدو کې پراته هېوادونه یې باید د حل له پاره هڅه وکړي. سره له دې چې د وربښمو لارې نوې طرحه د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر په میاشت کې وړاندې شوې ده. له هغه مهال راهیسې د دې لارې د جوړېدو له پاره په یو شمېر هېوادونو کې عملاً زیربناوې مخ په رغېدو دي؛ خو په افغانستان کې د ځینو ستونزو له امله د دې زیربناوو د رغولو لپاره عملي کار نه دی پیل شوی، دا ستونزې په لاندې توګه بیانولی شو:

۱- له اسلامي امارت وړاندې حکومتونو کې د پراخ فساد موجودیت؛
۲- بهرنۍ مداخلې، نا امني او د سم اقتصادي میکانیزم نشتوالی؛
۳- د زیربناوو نشتوالی؛
٤- د سیمې د هېوادونو په ځانګړي ډول د سترو قدرتونو ترمنځ سیالي؛
٥- بیروکراسي.

په اوسمهال کې له یادو ستونزو څخه یې زیاترو هوارې او د ځینو د هوارې له پاره کار روان دی. کله چې په ۱٤۰۰ لمریز کال کې اسلامي امارت واک ته ورسېد، نو لومړی کار یې چې وکړ، هغه د یو مرکزي او قوي حکومت رامنځته کول و. اسلامي امارت په هېواد کې سل په سلو کې امنیت ټینګ او له هېواده یې د څلویښت کلنې جګړې ټغر ټول کړ. اسلامي امارت ته په کار ده د اقتصاد محوره سیاست په غوره کولو سره هڅه وکړي چې د اقتصاد له پاره میکانیزم جوړ او پرمټ یې د افغانستان لوېدلی اقتصاد بېرته په پښو ودروي. د زیربناوو په برخه کې هم اسلامي امارت ته په کار ده، هغه زیربناوې ورغوي چې وکولای شي، د یو کمر بند او یوې لارې پروژې د عملي کېدو په برخه کې اغېزناکې واقع شي. دا چې د سیمې او نړۍ د سترو قدرتونو ترمنځ سیالي روانه ده، اسلامي امارت باید خپل بهرنۍ سیاست داسې تنظیم کړي چې له ټولو سره په متوازن ډول اړیکې ولري، نه د چا په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي او نه چاته د دې اجازه ورکړي چې د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې جرائت وکړي. اسلامي امارت ته په کار ده چې د بیروکراسۍ په مخنیوي کې رغنده ګامونه پورته کړي، د سوداګریزو پروسو په برخه کې اسانتیاوې رامنځته او هڅه وکړي چې برېښنایي حکومتولي دود کړي. د دې ډول حکومتولۍ په رامنځته کېدو سره به هم د بیروکراسۍ

مخه ونيول شي او هم به پروسې اسانه او ګړندۍ شي. که چېرې دا ټول ټکي په پام کې ونيول شي او عملي بڼه خپله کړي؛ نو له شک پرته چې افغانستان به د يو کمربند او يوې لارې په څېر د نړيوالو پروژو برخه وګرځي او پرمختګ به يې حتمي شي.

## پایله

افغانستان ځانګړی جغرافيايي موقعيت لري. دغه هېواد د سيمې د درېيو اقتصادي، کلتوري او جيوپولټيکو حوزو په منځ کې پروت دی. په سويل او ختيځ کې سويلي اسيا، په شمال کې مرکزي اسيا او لويديځ کې يې ايران دی. له همدې امله افغانستان دا درې واړه حوزې يو له بل سره تړلې دي. له دې سيمو يا حوزو څخه مرکزي اسيا او سويلي اسيا کولای شي د يو بل له پاره ګڼ فرصتونه رامنځته کړي. د افغانستان په شمال کې د ترکمنستان، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان او قرغيزستان په شان هېوادونه پراته دي چې د ګاز، برېښنا، تيلو او نورو اومه توکو پربمانه زېرمې لري. باالمقابل په سويل او ختيځ کې بيا دوه نور هېوادونه لکه پاکستان او هند دي، چې دې توکو ته سخته اړتيا لري؛ خو د ځواکمنو ترانسپورتي او مواصلاتي لارو د نشتوالي له امله لا هم پر دې نه دي توانېدلي چې له يو بل سره په بشپړ ډول سوداګريزې اړيکې رامنځته کړي. که چېرې مواصلاتي لارې په تېره بيا د ورېښمو لار چې له اوس څخه سلګونه کاله وړاندې ترې ګټه پورته کېده، بېرته ورغول شي، نو دا ستونزه به حل شي. د چين ولسمشر شي جينپينګ له لورې د يو کمر بند او يوې لارې طرحې وړاندې کول، د دې لارې په مسير کې د پرتو هېوادونو لپاره يو ښه خبر و، چې له امله يې دغو هېوادونو هم تود هرکلی وکړ. د يو کمربند او يوې لارې پروژه چې هماغه د ورېښمو لرغونې لار ده، لګښت يې مېلياردونو ډالرو ته رسېږي. دغه لار کولای شي هغه هېوادونه چې اوبو ته لار نه لري، له اوبو سره ونښلوي. د دې هېوادونو له ډلې يو هم افغانستان دی چې په وچه کې ايسار دی؛ نو له دې امله اړينه ده چې په داسې سترو او نړيوالو پروژو کې شريک شي، ځکه افغانستان د کرنيزو توليداتو په ګډون پراخې طبيعي زېرمې او لاسي صنايع لري او د دغو توکو د پلور له پاره هغو لارو ته اړتيا ده چې افغانستان وکولای شي د خپلې خوښې بازارونو ته لاسرسی پيدا کړي. کله چې افغانستان نويو مارکيټونو او بازارونو ته لار پيدا کړي؛ نو بيا به هم په اقتصادي ډګر او هم په سوداګريز ډګر کې پوره وځلېږي. سوداګرۍ به پراختيا ومومي او پر مټ به يې اقتصاد په بشپړ ډول وده وکړي.

# اسلامي امارت ته د طبيعي زېرمو، انرژۍ او کرنې په برخو کې پانګونه لومړيتوب لري




د اسلامي امارت له لورې په هېواد کې د بشپړ امنيت په تآمين او د واحد مرکزي نظام په بنسټ ايښودو سره په مختلفو برخو کې د پانګونې لپاره زمينه برابره شوې چې دا يو له مهمو اقتصادي بدلونونو څخه ګڼل کېږي.

په دې برخه کې نوښت کولی شي د افغانستان په اقتصادي ثبات کې رغنده رول ولوبوي. کورنۍ او بهرنۍ پانګونه د هېوادونو په اقتصادي تګ لاره کې د يو مهم عنصر په شکل رول لوبوي.

دغه ډول پانګونه د اقتصادي ودې، کارموندنې د زياتوالي، انفلاسيون کنټرول، د اسعارو د ثبات، د مالياتو له لارې د عوايدو د زياتوالي، د وارداتو د کمولو او د صادراتو زياتولو، نوښت، پرمختللې ټکنالوژۍ ته زمينې برابرېدو او په ټوله کې د هېواد د اقتصادي ثبات سبب ګرځي.

اسلامي امارت د اقتصاد محوره پاليسۍ په غوره کولو سره دې ته ژمن دی چې د خصوصي سکتور د پانګونې حمايت وکړي او د سوداګريزو چارو لپاره يې مصوون چاپېريال برابر کړی دی.

اسلامي امارت د انرژۍ او برېښنا، کانونو، کرنې، ترانسپورت، روغتيا او معلوماتي ټکنالوژۍ په سکتورونو کې پانګونه خپل لومړيتوب ګڼي او په دې برخه کې يې هر ډول سهولتونه برابر کړي دي. پورتنيو موضوعاتو ته په کتو سره هيلې راټوکېدلې او افغانستان د اقتصادي ثبات پر لور حرکت پيل کړی دی.